





Ketabton.com

This book was gifted in honour
Jahanzeb on the auspicious c
Festival as special contributio
12 December 1954. **Pukhto.N**
this book to its readers t

(c) ketabton.com: The Digital Library

L.No.15
15/-

# جہان زیبی

## مشاعرہ

۱۹۵۴ع

۱۲ / دسمبر

باہ______تمام

## سیف الملوک صدیقی سوات

فیضان سوات بقلم خود

تعداد ۵۰۰ عبدالحمد محمد سعید منگورہ سوات

G.H.S. S. Kabal

(c) ketabton.com: The Digital Library

No: 15
16.6.57

۷۸۶

# جهان زیبی

# مشاعره

زیر سرپرستی سیف الملوک صاحب

صدیقی ریاست سوات

لیکونکے او مرتب کونکے فیضانِ سوات

Govt. Higher Secondary School
Acc No 15
Date
KABAL Swat

(c) ketabton.com: The Digital Library



غازی ملت حکمران سوات



# تمهید کتاب

چونکه سنږکال دَ حضورِ اعلیحضرت همایونی
جناب محمد عبدالحق جهان زیب خان
صاحب حکمرانِ ریاست سوات دام اقبالهٗ دَ
جشنِ سالګیرئ سنه ۱۹۵۴ء دَ ۱۲، د سمبر
په حقله خو نږ دَ خوګ وطن ښاغلی محترم جناب
سیف الملوک صاحب صدیقی یو خلور طرحے دَ خپل فکر
دَ نتائجو نه منتخب کړے په هغوئ باندِ ادیبانو
او شاعرانو صاحبانو خپل خپل جذبات ښکاره کړه
لهٰذا مونږ دَ دیو مجموعے په طور په خدمت دَ حلقهٔ احباب
او دَ ناظرینو دَ جشن کښې پیش کوؤ:-

(گر قبول افتد زہے عز و شرف)

فیضان عفی عنه
(سید و شریف)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نظمونو فهرست


| شمیره | نوم د شاعر او د هغه نظم | صفحه | شمیره | نوم د شاعر او د هغه نظم | صفحه |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | تمهید کتاب | ۲ | ۱۱ | سلطان محمد صاحب | ۶۶ |
| ۲ | سیف الملوک صاحب صادق | ۴ | ۱۲ | شیر صاحب | ۷۸ |
| ۳ | فضل الرحمان صاحب فیضان | ۱۳ | ۱۳ | مهر النساء صاحبه بانو | ۸۰ |
| ۴ | حبیب الرحمن حبیب صاحب | ۲۳ | ۱۴ | پیر محمد خان صاحب | ۸۳ |
| ۵ | امیر حمید صاحب | ۳۳ | ۱۵ | محمد نوشیروان صاحب | ۸۹ |
| ۶ | ایاز صاحب. کراچی | ۴۴ | ۱۶ | شیر افضل صاحب | ۹۶ |
| ۷ | عبد المالک صاحب فکری | ۴۷ | ۱۷ | خانی قصاب صاحب | ۱۰۰ |
| ۸ | شیر محمد خان صاحب مینوش | ۵۵ | ۱۸ | دلاور خان صاحب | ۱۰۶ |
| ۹ | احمد جان صاحب نشتر | ۵۸ | ۱۹ | د ناظر سوید خیل مت کنی | ۱۱۸ |
| ۱۰ | مولوی ضیاء الحق صاحب | ۶۳ | ۲۰ | د عقیدت گلونه | ۱۲۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جناب سیف الملوک صاحب صدیقی ادیب سوات

## طرح

یو زه یوازې نه یم چه پهٔ دې یم خوشحاله

---

را زه تماشه اوګوره هر طرف ته خما لاله
یو زه یوازې نه یم چه پهٔ دې یم خوشحاله
را زه تماشه اوګوره د اقبال ختلے نمر دے
مولی پهٔ لوئ احسان راکړے دا در یم اختر دے
خوشحاله قام پهٔ دې چه جهانزیب د دوئ رهبر دے
بل ګوره خما روره چه نن باره د سمبر دے
هم ځو بهٔ ترقی دوی دا جشن کال تر کاله
یو زه یوازې نه یم چه پهٔ دې یم خوشحاله



اوس جوړ د ترقی ځونږ د پاره دی اسباب
ختلے پهٔ عروج د سوات تاریخ دے پهٔ هر باب
مالیار چه د ګلزار لړ کړه زاغ زغن غراب
د سیال سره چه سیال کړو مونږ والی عالیجناب
دا قول د ده همت دے ځان خبر کړه دا حواله
یو زه نه یم چه پهٔ دې یم خوشحاله
صحت درله درکړی پاک الله غنی غفور دے
زاړه ځوانان، واړه هر یو پهٔ دې ساعت مسرور دے
فرمان چه څه کوے پهٔ صدق مونږ ته منظور دے
د قوم د ترقی خدمت دِ نورٌ علیٰ نور دے
شهزئ د دوړی شو بهتر د زرین شاله
یو زه یوازې نه یم چه پهٔ دې یم خوشحاله
وطن د باغ ارم کړه څوک ناشکره د احسان دی

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناشکره به هغه وی چه په مثل د شیطان دے
اصیل پرے خوشحالیږی په مونږ فضل د سبحان دے
حصه د منافق دلته هم هلته کښې نیران دے
محروم به ژوند کښې نه کړے صدیقی د خپل وصاله
یو زه یوازے نه یم چه په دے یم خوشحاله

---

طرح
طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

نن باره دسمبر دے پښتنکان را غله په شمع
طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع
نن باره دسمبر دے خوشحالي ده په هر لور
هر خوا ته نظر اوکړه چراغان دي کور په کور
غنچے شنے د خندا نه پرے بلبلے کوی شور
دعا کوی سلطان ته چه یے ورک کړه ظلم زور



هر یو په خپل پوره دے نه یے شته د بل نه طمع
طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع
خندا ده خوشحالي ده په چا نشته درد و غم
دعا کوی الله ته د خپل والئی اعظم
ادیب شاعر چه ولاړ دے کړه قرطاس ته خپل قلم
اوصاف د جهانزیب لا پوره نه وو ذره شه خم
جمال ستا د کمال چه په نظر شوه د چا لمع
طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع
رښتیا ده چه عادل سلطان د پاک الله رحمت دے
داهم د خدائ د لوري په مونږ فضل عنایت دے
خندیږو، خوشحالیږو په هر ځائ ځمونږ وقعت دے
غمخوار د هر یو کار بچیله غازئ ملت دے
په تا چه څوک خفه وی هغه رب دې زر تر ذره کړي قمع
طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه شکر نه او نه کړی دا بد بخته بې کردار دے
خلاف د اولی الامر په تحقیق کښې ګنهګار دے
تعمیر انصاف د سوات په مثل بل په کوم دیار دے
صحت دولت د علم کړه حاصل که ستا پکار دے
حق وایه صدیقي حق ته دِ تهیک و نسیه سمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

## طرح

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

دا سے تجربه م په تحقیق کښې دا احساس ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده
هر سړے د فکر ځان ته نن او د پرون او کړی
فرق په رشتیا د وصال او د بیلتون او کړی
بل د زړه په سترګو د کتنه د ګردون او کړی
شکر د الله د په دے عهد د مامون او کړی



ستره چه ماضی ځمونږ د حال د انعکاس ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده
نشته یو مثال چه به وِی دا دور و دوران د چا
نه به یو منصف، عادل، بیدار وی حکمران د چا
نه به زیب زینت لکه ځمونږ وی په جهان د چا
دا سے رقیبان به په تعجب نه وِی حیران د چا
لویه تجربه دِ د لقمان او بلینا سه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

تا د ملک او قوم چه په کوم شان سره تعمیر کړے
بل دِ د صحت تعلیم عجب غوندِ تدبیر کړے
بنګلے کور په کور چه انتظام د د تنویر کړے
هر ځائے کښې انصاف د د غریب او د امیر کړے
ځکه خیر الناس و من ینفع الناس ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیرې زمانې ته چه نن فکر څوک د سوات کوی
خدائیګو که انسان وی د ے به فخر ستا په ذات کوی
یا وه قتل خون یا مطالعه د کائینات کوی
ځکه هر یو کس په دے خلوص صدق صفات کوی
هر ځائ اوریدلے صدیقی د حق شناسه ده
هر سړی موندلے لو یه برخه ستا د لاسه ده

طرح

درو غ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دیقین شی

محفوظه خزانه وی چه پلاس کښ د آمین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دیقین شی
په صدق چه خدمت کوی مالیار د ګلستان
بلبل ورله راغواړی بل ترے لوے کړی زاغان
زاغ و زغن چه نه وی هر بلبل شی ثناخوان
هم داد وطن حال وی چه عادل وی حکمران



ګویا په دغه قوم فضل د رب العٰلمین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دیقین شی
مشهور په تواریخو کښ دے عدل جها نګیر
ترے د انصاف د پاره ده به وه زنځیر
مظلوم به هلته لاړ شه چه به وه د ځان په ویر
وئیل به ئې فریادی ته راته اودې کړه تقریر
سلیم په دغه وصف یاد یدلے په تحسین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دیقین شی
یو څو خبرې واوره ته د غازی ملت
رښتینې نګهبان دے د خپل ملک او رعیت
پخپله د سپاهی پشان ولاړ وی په خدمت
فریاد د فریادی اوری هر ځائ په هر ساعت
اوصاف ئې نه ختمیږی که هر وصف په تضمین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دیقین شی

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ دہ پہ برکت باندِ وطن ځمونږ سمبال دے
هر یو تہ پہ خندا دے هر یو کس تہ پہ نیک خیال دے
دَ دہ دے نظم نسق تہ هر یو سړے لیوال دے
تعمیرِ صدیقی پہ دے زمان کښې بومثال دے
ممد او معاونِ دِ دَ دهٔ رب پہ هر یو حینِ شی
دروغ نہ دی رښتیا دی پہ رښتیا کہ دِ یقین شی

---

# سیف الملوک صاحب

## صدیقی۔ سیدو شریف



# فضل الرحمن فیضان شاعرِ خوشنویس

## ریاستِ سوات

---

### طرح

یو زہ یوازے نہ یمہ یہ دے باندِ خوشحالہ

---

رازہ گله رازہ چہ دِ خبر کړم مہ دَ حالہ
دا نہ چہ بیا ځمانہ تہ گلہ کوے صبالہ
نن بارہ[۱۲] د سمبر ستر گے وہی ځمونږ پلور
یو ناوے دَ مکیز د ا خلہ شوہ ځمونږ پہ کور
گلونہ دَ عشرت دَ زړهٔ پہ باغ کښې شو سمسور
دَ سوات پہ گلستان کښې بلبلان گډ شو پہ شور
خوشحالہ خوشحالی دہ نن دَ هر سړی دَ خیالہ
یو زہ یوازے نہ یمہ یہ دے باندِ خوشحالہ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جوش د محبت کښې د سیماب غوندې رقاص شوم
د عام نه جدا شومه د خاص سره خاص شوم
میدان د تصور ته ورد ننه په اخلاص شوم
د فکر په دریاب کښې ورپکې لکه غواص شوم
خارج م کړه لعلونه چه قبول دې کړله کماله
د شاه د تاجپوشۍ په تاج جړاوم کړه آلاله

نن جشن د حضور دے که د نوی اختر هلال
دا بدر د کمال دے که یو ستورے د اقبال
یا بسکلې پلوشه ده سروهې پوره په کال
یا داچه په هجران پسے مدام راځي وصال
نن جونه دې جشن تماشې کړي د دیواله
نوې د نکې غرانګې سره جوړ کړي د سوشاله
دا زه یوازې نه یم په دې باندې خوشحاله



د خیال په آئینه کښې در ته ښایم یو تصویر
په هوش شه هسې نه چه شي د ځان په هوا ګیر
د سحر د جادو نه در ته ډک کوم تقریر
اثر به هله اوشي د ضمیر نه په ضمیر
**فیضان خپل تخیل کړو د شاه مینې ته لیواله**
الفاظو ئې په زخم د زړه کېښودو دسماله

---

## طرح

**طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع**

---

یو وزے زړه د سیل د پاره تلے وم صحراته
ګلشن د خوشحالۍ کښې ګرزیدم مزه هرخواته
یوزې عجیبه بهار په غوږ کښې اوے ماته
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ سوات په گلستان کښې نن چغيږی بلبلان
محفل ته دَ ادب واړه غونډيږی اديبان
په يادو دَ سلطان کښې مشغوليږی شاعران
دَ جشن په جوبن کښې بيا او بيا کيناسته جمع
طوطيان په گلستان کښې په خندا کيناسته جمع

دَ باره ۱۲ دسمبر تاريخ بيا يادوی په هر حال
چه داسے سالگره يکښې کيدے شی هر کال
خوشحاله خوشحالي ده نن دَ هر سړی په خيال
دَ جشن په دے شپه کښې تر صبا کيناسته جمع
طوطيان په گلستان کښې په خندا کيناسته جمع

دَ جشن فريدون او دَ نوروز نه دَ جمشيد
ځمونږه جشن زيات دے داځمونږه دے يو عيد
آزاده آزادی ده يکښې نشته دَ غم قيد



يو ښکلی محفل کښې شاه گدا کيناسته جمع
طوطيان په گلستان کښې په خندا کيناسته جمع

يو سيل دے تماشه ده هر ځای هر مکان
تاريخ تازه کول دی نن دَ سوات دَ حکمران
داحکمران راغونډ شولوی واړه زاړه ځوانان
دَ ډيرے خوشحالئ نه په رشتيا کيناسته جمع
طوطيان په گلستان کښې په خندا کيناسته جمع

دَ اُنځاس نه دَ ځوړا پورے اوشو داسے ياد
په باره ۱۲ دسمبر کښې حاصليږی ځمونږ مراد
فيضانه حکمران دے ځمونږ تل وی زنده باد
نن عام وخاص دَ باره دَ دُعا کيناسته جمع
طوطيان په گلستان کښې په خندا کيناسته جمع

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طرح

### هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

ډیر ډیر فوائد د رسولی دی جهان وته
لاس د دلاسه د دے پسر هر یو انسان وته
ښته دے سلطانه د عیان نه څه بیان وته
هره نتیجه د د حدیث د خیر الناس ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

خاص د هر یو رنځ دارو یې د اسے مسیحا یې ته
جوته مړه ور نه یې خو هر چا نه بخلا یې ته
هم څو نږ د غم د شپے د پاره یو صبا یې ته
هره فائده ستا څو نږ د پاره بے قیاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده



ستا په لوی همت سره د سوات وطن آباد شه ښه
علم د ازده کړه ورته جهل نه آزاد شه ښه
هم په جمیل وصف سره هر وطن کښی یاد شه ښه
دا د سوات ټولو ته څکه اوس خلاصه د افلاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

تا د قوم د پاره هم پوره کړه ضرورت واړه
تا د ترقۍ په عروج جوت کړه ریاست واړه
څکه د لتا نه ټول خوشحاله رعیت واړه
ستا مهربانی د نوے بلے نه لپاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

جشن د دے باره دسمبر د مبارک وی ستا
دیره خوشحالی د اے سلطانه یو په لک وی ستا
ستورے د اقبال د تل روښانه په فلک وی ستا

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دُعاء څوك نه ستا په حق کښې بے وسواسه ده
هر سړی موندلے لويه برخه ستا د لاسه ده

ته دِ ژوندۍ بادې حکومت دِ ستا مدام وی تل
سوړے د رحمت دِ ستا په مونږ علی الدوام وی تل
هم دِ د **فیضان** حقیر پیتا دعا سلام وی تل
دا ثنا دی شروع څوك نه د انیس شو انجام سره ده
هر سړی موندلے لويه برخه ستا د لاسه ده

---

## طرح

### دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شي

---

تور دِ که سره شنه دی هم که زیړ دی او که سپین شي
دا که په یو رنگ شي نو بیا جوړ به تر آئین شي



راشه دو رنګی پرېږده په یو رنګ سره رنګ شه
ته که دِ عاشق نو د آشنا د در ملنګ شه
زر شه د باطل د پاره غشی د خدنګ شه
دوست به دِ خوشحاله شي دشمن به دِ غمګین شي
داسے کارنامے به دِ بیا لوړے تر علّیین شي

Govt. High Secondary School
Acc No—
Date
KABAL Swat

مان د اتحاد په رسۍ اوتړه محکم بته
زهر د تفریق د مینځ نه واړه کړه مدغم ته
زړه دِ په چاړه د شاه د مینے کړه قلم ته
څوك چه داسے کار کړي په رښتیا سره نازبین شي
دا خبره دروغ نه دی په رښتیا که دِ یقین شي
راشه دروازه د یقین او وهه په زوره
ښل یقین دِ خاص کړه بیا هله لمتوه نوره
ولے ته دیده او دانسته ګوځے شمکوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک چه دَ اخلاص په جامه پټ شي نو آمين شي

تيږ نه وي بيا خلقو ته دير خوګ لکه ګبين شي

ته په صداقت دَ جهانزيب دَ در غلام شه

ښکار لکه مارغه دَ محبت دَ ده په دام شه

څو به يې بدنام ته دَ وفا په نوم نيکنام شه

مخ په صدق وينځه چه روښانه د جبين شي

هله به بيا رونړ درته دَ يار دَ مخ آئين شي

خيال کړه مجبوره زه په دے معما کا نو

داتشے قصے نه دي که وادري هوښيارا نو

دا يو معمه دَ مطلب ده که ده يارا نو

وائي فيضان تا سو ته که پوهه پرے دوربين شي

کوزه با يه بره، بره کوزه دَ خودبين شي

فيضان سوات عفي عنه سيدو شريف



# ښاغلے حبيب الرحمن صاحب حبيب اديب کالوج سوات

## طرح

يو زه يوا زے نه يمه په دے باندِ خوشحاله

نن بارِه دسمبر دے هر سړے کړي ځي له خياله

بو زه يوا زے نه يمه په دے باندِ خوشحاله

نن بيا هغه تاريخ دے هغه مياشت دَ دسمبر

ختلے چه پرے تخت وه والي صاحب بهادر

هر چا ته هر سړي راځي خوشحاله په نظر

دا زيا ته خوشحالي ده پرے رسيږي دَ بل کاله

يو زه يوا زے نه يمه په دے باندِ خوشحاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے جشنِ تاجپوشئ له دَ والی صاحب والی
یو زه یواځے نه یم چه پرے کومه خوشحالی
دَ سیالان سره چه سیالان نه دی هغه کوی سیالی
معموره هم مسروره پرے دَ ورځ ویم بدحاله
یو زه یوازے نه یمه په دے بانډ خوشحاله
دا ورځ دَ خوشحالی ده ټول دَ هر یو مسلمان
هر ځائے کښ خوشحالی ده په هیڅ ناسته خفګان
تاریخ دَ تاجپوشئ چه دے ځوند دَ حکمران
وه چه زبون حال هغه نه کړے زبون حاله
یو زه یوازے نه یمه په دے بانډ خوشحاله
دا ورځ دَ خوشحالئ دَ اهلِ سوات دَ اقبال
دَ بارهٔ دسمبر ده مبارک که دَ دے کال
ده داسے خوشحالی لکه دَ عیده په هلال



دا بارهٔ دسمبر پکښ تاریخ ویم نیکفاله
یو زه یوازے نه یمه په دے بانډ خوشحاله
آمان دَ انقلاب نه ځوندِ حکمران وی
دنیا کښ ترڅو پورے چه دا زمکه دا آسمان وی
هم داسے دے په قام بانډ مشفق ځوند سلطان وی
دُعا دَ حبیب داده اے خالقه لایزاله
یو زه یوازے نه یمه په دے بانډ خوشحاله

---

## طرح

طوطیان په ګلستان کښ په خندا کیناسته جمع

---

طوطیان په ګلستان کښ په خندا کیناسته جمع
ن بارهٔ دسمبر دے شاه ګل کیناسته جمع
دا بارهٔ دسمبر یو لوی اختر دے دَ اولس

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر یو سړی ته کو دم چه کوی خندا هوس
د دې یره خوشحالۍ نه په هر ځای کښې د مجلس
حسد او کینه لاړه ئې اعدا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

بې حده خوشحالي ده ریاست کښې کور په کور
چه ورځ د تاجپوشۍ ده د والی صاحب غمخور
په زیاته خوشحالۍ له کښه با خیده رنځور
آغوستي ئې جامې خلقو زیبا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

ټول خلق راغونډ د خوشحالۍ شو په میدان
هر یو کړي خوشحالي په تاجپوشۍ د حکمران
په هر کلي د سوات کښې په هر ځای په هر مکان
محفل د خوشحالۍ کښې یار آشنا کیناسته جمع

PUKHTO.NET



امیر دے که فقیر دے کړے هر یو را انتظام
عیشونه دي جلسے دي، دعا ګانے کوی قام
څوک چه بے آرام وه هغه وینم په آرام
په خوان د سلطان ادنیٰ اعلیٰ کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

ښکاریږی هر طرف ته دروازے بنی مزه دارے
حیران شی په دے ورځ چه مسافر درومی پلارے
نور روانی مسافر خنګه اختر شه په تلوارے
حبیب وائی کاروان ترے په سودا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

## طرح

هر سړی مونده لے لویه برخه ستا د لاسه ده

حضور ره ما ایستلی بادشاهي ستاسو قیاسه ده

هر سړی موندلی لویه برخه ستا د لاسه ده

موندلی لویه برخه هر یو کس لتا سلطانه

احسان مالي جاني کوے د هره مسلمانه

بیا خاصکر په عاجزو يې بے حده مهربانه

هم ډیر د احسانونه هم جزا د سمه لاسه ده

هر سړی موندلی لویه برخه ستا د لاسه ده

په مثل د حاتم د حکمرانه سخاوت دے

لایق د ډیر تحسین د آفرین د حکومت دے

د عدل د انصاف د په کلّي جهان شهرت دے

ستا فیصله هره د میزان او د قسطاس ده

هر سړی موندلی لویه برخه ستا د لاسه ده

هره فیصله کړے په انصاف عدل پسند يې



پر دے نوم د انصاف په تمامي جهان سره کندے

موصوف په دے اوصافو په چترال په ډیر درند يې

تعریف دے دنیا ټوله کړي د لاندي کم لیاسه ده

هر سړی موندلی لویه برخه ستا د لاسه ده

حاکم دے دوی حاکم چه ور پکښ عدل انصاف وي

صدق چه له بهره د رشوته څخه صاف وي

ملزم چه جرم اوکړي په اقرار بانده معاف وي

له دے نه چه خلاف شي بیا توبه دے د خناسه ده

هر سړی موندلی لویه برخه ستا د لاسه ده

خاوند دې څه نصیب کړه زیات له دے نه ښه اقبال

جو کړي مظلومان دې په انصاف عدل خوشحال

محفوظ دې له گردش د انقلابه او سه آل

دعاء د مظلومانو تیره سخته د الماسه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن بارہ د سمبر دې تاجپوشي د حکمرانه
دا نیک فال تاریخ دے هر یو کس وینم شادانه
دا ورځ له اختره کمه نه ده مهربانه
هره خوشحالۍ د کال د هر یوې د پاسه ده
هر سړی موندلې لویه برخه ستا د لاسه ده

د احبیب له صدقه خیل مالک ته بیا دې سوال کښې دے
تل د تضاعف د سالګیرۍ دې کال په کال کښې دے
بل د نیکنامۍ غرض یې هر زمان په خیال کښې دے
د الار د نجات هر مسلمان له بې وسواسه ده
هر سړی موندلې لویه برخه ستا د لاسه ده

---

## طرح

دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دې یقین شي



سوات ته چه خوک راشي پوهه رحمت د رب متین شي
دروغ نه دی رشتیا دي په رشتیا که دې یقین شي
لاره چه یو ظالم او بل مظلوم شي عدالت ته
دی په خوشحالۍ مظلوم راضي مظلوم غمګین شي
زغلي عدالت ته مظلومان له هر طرف نه
سوال د دوی قبلیږي دې بې خفه ظالم بیدین شي
په سوات کښې مساوات د معتبر او د غریب دے
حق رسي یې کیږي که خوک خان او یا مسکین شي
زیات له موره پلاره مهربانه شاه په قام دے
بیا په کومه په وجه رعیت به تري غمګین شي
نن په انتظام باندې خوشحاله رعیت دے
نه غواړي هیڅکله چه بدل دې دا آئین شي

PUKHTO.NET

رحمت په هغه چاوی چه مطیع د حکمران وِی
د شاه نه چه خلاف شِی هغه دوره د شیاطین شی

د غلو شو کمارو نشته مسافر ته خطر
نه فکر لری غم که په صحرا سر په بالین شی

حبیب وائی نصیب دِ د والی عمر د نوح شی
د قام ده دا دعا د فرشتو دے پرآمین شی

# حبیب الرحمن حبیب

گالوچ - سوات



# ښاغلے امیر حیدر صاحب بونیری

## ریاست سوات

### طرح

یو زه یوازے نه یمه په دے بانده خوشحاله

یو زه یوازے نه یمه په دے بانده خوشحاله
دا باره دسمبر دِ خدائی محفوظ کړی د زاوا الله

یو زه یوازے نه یمه خوشحاله بتول جهان دے
د سوات په ښکلی زمکه جهان زیب چه حکمران دے

د غنی والئ سند ے چه دا خنک امن آمان دے
مولیٰ دِ په ښادئ لری دا کال تر بله کاله

یو زه یوازے نه یمه په دے بانده خوشحاله

مولیٰ دِ په ښادئ ساتلری د والی ذات
ذات د ده خوشحاله وی خوشحاله دی سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عدل په انصاف کښې شاه آغستی دی صفات
قدم نقش قدم ئې ځي پوړک دے د کماله
یوزه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

قدم نقشِ قدم ئې ځي په ده د اسلام
اِسلام هغه اسلام وي چه ئې درست خیرېږي انجام
انجام د نیک خویونو په والی کښې دي تمام
د مُلک او د ملت خبر نه ده ترے مخاله
یوزه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

د مُلک او د ملت په محبت کښې وی غرقاب
د خوارو غریبانو په خدمت کښې وی غرقاب
قانون ئې شریعت دے شریعت کښې وی غرقاب
آوازئې د توحید دے او ریکي د بلاله
یوزه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله



آوازئې د توحید دے او ریږلے برابر
خدای رسول ته درست وي هغه او کړی مقرر
وروړزے د باغچے پلوړے تله امیرِ حیدر
بلبل ته گل وئیلو چه به تراځے صباله
یوزه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

---

## طرح ۲

طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

محفل کښې خوا په خوا آشنا کیناسته جمع
طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع
طوطیان په گلستان کښې د گلونو ننداره کړی
ورک خاندی خوشحالیگی ځوک د خپل جوش نعری کړی
د گل د گلو اخلی پړے محو کے دواړه سره کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زاغان به تېختې لاړه په بېدیا کېناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

طوطیان په ګلستان کښې چه صبا شي خوشحالي کړي
چه باد دَ صبا راشي پا ئېرے خاندي قوالي کړي
نعرے دَ زندۀ باد کړي زندۀ باد چه دَ والي کړي
خوشحاله تمام قوم په مرحبا کېناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

طوطیان په ګلستان کښې مصلحت کوي دَ عیش
هر یو به خپله ژبه اشارت کوي دَ عیش
دنیا کښې په دنیا خلق صفت کوي دَ عیش
ټول قوم مخامخ دَ رهنما کېناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

محفل کښې خوا په خوا آشنا کوي خندل
محفل کښې چه خندا کوي هم دا کوي کښتل



...بوره دَ والي به مساوي نه وي څوک بل
جلوس کښې دَ بنادۍ ټوټې دادا کېناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

محفل کښې خوا په خوا آشنا آشنا کوي مذکور
... دَ خوشحالۍ نه معلومیږي مخ ضرور
... اباره دسمبر دَ سالګیرۍ کیږي دستور
میدان کښې مجلسیان په رضا کېناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

محفل کښې خوا به خوا دي دَ یو بل نه تېښو سو نه
... حق کښې دَ والي غواړي دعا ټول اولسو نه
مخلوق کړي دَ خپل توانه خیرات نه مجلسو نه
یاران دَ امیر حیدر لاس په دعا کېناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طرح نمبر ۳

### هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

---

هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده
دا خبره هم هر چا ویلے دَ خپل قیاسه ده

هر سړی موندلے لویه برخه په خدمت کښې ده
هر یوه صیقه دَ شرافت په صداقت کښې ده
ما هم اوریدلے دا وینا دَ عوام النّاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

ما هم اوریدلي چه دَ قوم ځان خادم کړې
ته خدمت دَ قوم کړې، نه چه ځان حاکم کړې
تلے دا فقره دَ فکر پورته دَ وسواسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

PUKHTO.NET



دا فقره دَ فکر پورته ستا دَ وصف ده
نده بادنغره هم هر یو لوړ ته ستا دَ وصف ده
عدل کړے انصاف کوے دا ستا دَ احساسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

عدل کړے انصاف کوے نه چه ته ظلمونه شته
نه په ترقۍ شوه داسے نور قومونه شته
ښکل په اخبار اتو کښې لیک دَ حق شناسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

ورست په اخبار اتو کښې لیک جهان زیبا ئے ته
ځکه مهربانه په عاجزو غریبا ئے ته
تیزه رسائي دَ عقل ستا چه دَ الماسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

تیزه رسائي دَ عقل ستا په سیاست کښې ده
قوم دَ اسلام له ښه فائده ستا حکومت کښې ده

ورک دِ چغل خور شي دَ چغل وينا نخاسته ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

ورک دِ چغل خور شي دَ چغل وینا اثر نه کړي

بل طرف ته کوچ به هیڅ امیر حیدر نه کړي

دام عریضه به دسهر دَ التماس ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

---

## طرح ۴

## دروغ نه دِی رشتیا دی به رشتیا که دِ یقین شي

---

دروغ نه دی رشتیا دی به رشتیا که دِ یقین شي

لال نشي پټیدلے که به ایر و زیر زمین شي

دروغ نه دی رشتیا دی به رشتیا یقین یکار دے

یقین دَ مسلمان دَ پاره ښه ښکلے کردار دے



...ائر به ناجاتړه چه بدل کړي گنهگار دے

رشتیا به خنګه پټ شي یو سړی که نکته چین شي

دروغ نه دی رشتیا دی به رشتیا که دِ یقین شي

...تیا چه پټوی دا پټول گناه عظیم دے

...سوات والي تر خپل اُستاد دَ خو کړے تعلیم دے

...نه دے دَ انصاف منصف مزاج عقل سلیم دے

هم دا سے نور قوم و نوله امام دِ جوړ آمین شي

دروغ نه دی رشتیا دی به رشتیا که دِ یقین شي

هم دا سے نور قوم و نوله دِ شي امام ښکاره

...یرت به شجاعت کښی دَ آغستے نام ښکاره

...یا کښی کوټه په کوټه باندِ چه شي اسلام ښکاره

بیدار شي هغه قوم چه باشلے نیک حسین شي

دروغ نه دِی رشتیا دِی به رشتیا که دِ یقین شي

(c) ketabton.com: The Digital Library
PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیدار شی هغه قوم چه نیک خویه ئې حکمران وی
خدمت چه د مخلوق کوی په ده رب مهربان وی
هغه زمکه او غرونه کاڼړی لوټې گلستان وی
په چا باندې نظر چه د خپل رب العلمین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که د یقین شی

په چا باندې نظر چه وی د رب هغه عادل وی
هغه تر مرتبې د خو اخلاقو هم حاصل وی
د سوات والی پښتانه خدای خبر چه څوک عاقل وی
په باره د سمبر کښې ځاځها به مضامین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که د یقین شی

په باره د سمبر کښې کور په کور باندې ښادئ دی
دشمن دې ئې ذلیل شی چه په زړه ئې ناسوئ وی
آزاد خو د غزونو دی بل به څه د آزادئ وی



په غیر د شریعت نه کړ قائم بل یو آئین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که د یقین شی

---

په غیر د شریعت نه ریاست کښې دستور نشته
قصور دی د نادانو د دا ناوه قصور نشته
بیا کوم د ځانه ماتړ دې کښې ضرور نشته
شاعر امیر حیدر د مولی نه کړی چه غمگین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که د یقین شی

---

امیر حیدر بونیری

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بناغلے ایاز صاحب دکراچئ نه

## طرح ۱۲

یو زکالیو ازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

پرون "دپښتنو" "ن" په خندا را غلو صبا له
زیرے د ښادئ گوندے هدهد راوړو سبا له

غږ د سلیمان دنکه غږئ و لاړ صدا له
پیغله د آیلم بیا جوړه شوه دګلها له

بخت او تخت او تاج د خلمی توب ځنے زاریږی
که ناز د پښتنو ځوا باندِ نازونه دی نازیږی

تقدیر به کړه سړ او تدبیر ولاړ به کاله
فطرت په سره منګلو کښې حنا راوړه حیاله



ختر په نورانی غیږ کښې ضیا راوړه ضیا له
نشے له مستیو ډکے د صبا راوړے صهبا له

الله یار او تدبیر دواړه له مړانے قربانیږی
ښادی له خوشحالئ نه په جامو کښې نه ځائیږی

فردوس د پښتنو د غوږیکی پښتو ځوا له
رضوان زیرے ورکړے هسے رنګے د دنیا له

وژړو نه د ښادئ د ګوهرو لړئ بن هرجاله
حیرت هم اِرادو د مشیت ته دے دوچاله

خلی پښتون آدم ته خلافت سپارلے کیږی
دواده د هیواد چه د ښادئ په تهال زنګیږی

خیبر چه چا خبر کړه د د هسے رنګ احواله
وے بوئ یم په د بوئ یم وجود بیا را غلو خلا له

کمال د پښتنو وزیږیدو ونکے له زوال له
کمال هسے کمال چه تکمیل مومی له کمال له

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



غازي چه تا ته ګورم ننګيالي م را ياديږي
جهان زيبه! تا ته ګورم ابدالي م را ياديږي

مبارک دِ شه دا جشن اے په سيالو کښې بې سياله
يو زه يوازې نه يم په دې باندِ خوشحاله
پښتو په ګڼا سره چه دې واک دراغلو تا له
ښادي به وے نه کړي چه خپله شوه واکواله
وارۀ پښتانه به هر وطن کښې خوشحاليږي
نوبت چه نن د سوات په سر دروکښې ستا غږيږي

---

## اياز کراچئ



# ښاغلے عبدالمالک صاحب فکري

## تندوډاک - سوات

---

### طرح

يو زه يوازے نه يم په دے باندِ خوشحاله

---

مرحبا فيض مونږ له دے بيل بيل ستا د اقباله
مطمئن، خورسند، ستا په دَورِ باکماله
سوات د که بونير دے دواړه خلاص شو د جنجاله
سوال ستا د عروج کوي هر څوک د ذوالجلاله
يو زه يوازے نه يم په دے باندِ خوشحاله

... د رحمت يې قام له کوړے لارے صافے
... ظلم دِ وړک کړه فرشته چه د انصافے

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر قدم چه اخلی مکمل وی، نه کړے لا…
وړاندے هر سو استا په اقبال شه دخپل سیاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندے خوشحاله

لوړه، که جوړه ده، که خت دے که نمړ دے
کلے دے که ښهر دے که سمه ده که غر دے
هر ځائ غوړیدلے ستا دعدل ښه څادر دے
نشته منزری هغه بیزو وته لیواله
یو زه یوازے نه یم په دے باندے خوشحاله

ژے وی، که اوږے یکښی هر څوک خپی مزے کوی
یره تره نشته خپله خپله مشغلے کوی
امن او امان دے اے فکرے نه څوک مله کوی
قام دستا دعلم په دولت شه مالا ماله
یو زه یوازے نه یم په دے باندے خوشحاله



## طرح ۲۰

### لوطیان په گلستان کښی په خند اکینا سته جمع

لوطیان په گلستان کښی په خند اکینا سته جمع
…رت چه دخزان وریکښی اوکړه قلع قمع

…ره ن د بهار په ښه موسم شه گلستان
…د حد زیات شه غوړو او سپړه دلوځان
…کل شه په خند اچه پسرلی او کړو اعلان
بلبل هم نغمه زن شه دوصال دگل په طمع
لوطیان په گلستان کښی په خند اکینا سته جمع

…امان د باغ لاړه، مهربا نه شته خاوند
…ښیاد ورک شه ظالم نغمے غوبږی خوند په خوند
…مستی کوی خوشحاله دی پرند چرند په ژوند

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



که لوی دِی که واړه دی هر چا بیا موند له نفع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

عجیبه تماشه ده سوات کښې نن صبا اختر دے
دا ورځ د سعادت ده ښکلے دور بختور دے
وطن ټول چراغان دے ځکه باره د سمبر دے
رڼا د قمقمو ده هر ځائ بله ده هم شمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

راضی دی د غازی نه په ښه شان سره قومونه
په دور ِ جهان زیب باندِ او باسی تل شکرونه
فکری یو ارے نه هر یو منصف و ائی حالونه
فیضیاب به ئے په فیض سره هر څوک دی نشته منع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

PUKHTO.NET



## طرح ۳

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

---

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده
دا صدا څما نهٔ ، بلکه دا د عام الناس ده

هر موندلے چا نه دے؟ محروم څوک دی؟ وایه
ل به ضمیر او مظلومان دی کوم ځائ؟ ښا یه
په کوټ او ګوټه حال احوال ، نهٔ چه د دورایه
نوره د انصاف تیره زیاته د الماسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

لکر د اکبر دے سوات پتا باندِ روښانه شهٔ
نښان اوچت ئے دوره زرجه د هر چا نه شهٔ
اقبال د چا دے چه محفوظ د هر خزانه شهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



داکمال دَ دے چه منگول ئے پرستا الیاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

ن دَ قام دَ پاره دلته هر ځائ اسکولونه دی
نو د دَ ترقئ هم ستا دَ وړاندِ اِسکیمونه دی
هر خوانه موجود ستا دَ تعمیر بنه مثالونه دی
دے داحقیقت، هسے خبره نه دَ قیاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

لاس په نام ولاړ فکری دُعاء ستا دَ اقبال کوی
مراد دِ ستا حاصل شی په دارین کښی دغه سوال کوی
ته چه رهبری کوے تفصیل ئے دَ اجمال کوی
تا کویا آغستے چرته خوند دَ الیاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

---



## طرح ۲
## دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

---

یو باغ دے پکښی تل چه وی بهار
دَ ر پکښی گرځی بلبلان کوی چغار
ده دَ جنت اُمن آمان پکښی بسیار
ان ئے خبردار دَ زمانے دے په اسرار
جنت به وایم سوا له که جنت په سر زمین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

نه ده دَ جنت زیب و زینت لری بے شانه
رت پکښی جوړ کړی مناظر دی لا بیانه
ی گل، غوټئ پاڼے هم ناچ کوی دَ ځانه
آواز دَ طائرانو اورېدے شی دَ هر خوانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اَحوال اُو کوره راشه چه حال د زړه تسکین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

نظیر دے دَ جنت بنکلے دَ سوات ازمکه نا مدار
طوطیان پکښې چغار کوی بے خوفه له آزار
دادَور بختور دے، دی هرڅوک شکر کړی ا ر
خزان دِ مولیٰ دُور لری دَ دے چمن ـ گلزار
په اَمن دَ آقا تو دِ دَ دے هر یو مکین شی

صد شکر دَ اکبر دے چه په امن کښې اَوّل یو
دَ قحط کښې مکسته یو دَ هر قسم غوبل یو
اقبال دَ جهانزیب دے منظم او مدلل یو
دَ علم په زیور سره فکری! بنهٔ مکمّل یو
حافظ دِ دَ غازی څمونږ الله العٰلمین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

(عبدالمالک فکری، تندو ډاک سوات)



## فخر الشعراء جناب غلے شیر محمد خان صاحب مینوش ترلاندی (صوابی)

طرح ۲

دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

هزار ځلے دشمن که ئے بے باکه نکته چین شی
لال چه دَ خودی چرے کمال سره قرین شی
جمال دَ قاهره ئے هله ستورے دَ جبین شی
دوجنت په کوته کښې دَ سلیمان هغه نگین شی
په تخت دَ حکومت باندِ فائز په بنهٔ تمکین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



یقین چه دِ محکم شهٔ نو قوّت ترِ نه جوړېږي
چه پاک دِ شه قوّت نو حکومت ترینه جوړېږي
چه نیک دِ بصیرت شه، عدالت ترینه جوړېږي
که روغ دِ وهٔ سیرت نو شجاعت ترینه جوړېږي
په ذات دَ جهان زیب کښې به داګل درته آئین شي
دروغ نه دِ ی رشتیا دي په رشتیا که دِ یقین شي

پلاس کښې دِ قلم دَ مقدر وجود کتاب دے
دَ ژوند په سمندر کښې دِ آسمان فقط حباب دے
په سترګو دَ مؤمن کښې دَ ادراک جهان سراب دے
دَ دهٔ او دَ حق مینځ کښې دیر نرے غوندې حجاب دے
اوچت شي دا حجاب چې چه روح ئې دَ شاهین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دِ یقین شي

دَ سوات دَ والي کار وارهٔ تعبیر دَ ژوندګئ دے

PUKHTO.NET



...هان دَ تصوّر کښې ئې تفسیر دَ ژوندګئ دے
...ات ئې سراپا وینه توقیر دَ ژوندګئ دے
...په فهم و فراست کښې ئې تدبیر دَ ژوندګئ دے
...نظام په محکمئ دَ ښهٔ سیرت سنګین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دِ یقین شي

...دارهٔ دَ مینوَش کښې که داطوق ئې دَ خدمت دے
...نو دَ والي صاحب نښان دَ محبت دے
...وجه لازم هما ئې تول عمر صفت دے
...ک چه چا حلال کړهٔ نو دا عینِ شرافت دے
کمال دَ حسن هم ئې دا که کوړے چه نمکین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دِ یقین شي

شیر محمد مینوَش تورلاندی، صوابی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښاغلے احمد جان صاحب نشتر علیګرام سوات

طرح ۱

یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

دلشاد ګرځي آزاد شه هر نفر چه د جنجاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
خوشحاله ټول وطن د رب په کرم عظیم دے
په دَورِ جهانزیب کښې چه مونږ چوتشو لوَ د سیاله
شکر بیا پرے شکر چه ہمہ سته له دے ذات شه
معراج د ترقۍ څمونږ نصیب د ذوالجلاله
پښتو نه راشه ګوره ستا وطن څرنګ جنت دے
واوره در ته وائي د هر ګل زبان د حاله



معراج د ترقۍ چه د دے ذات په مخے بیاموند
ګرځي هر نفر لګه سور ما څمونږ د خیاله
عزت دے که عظمت که د دولت دے جهانزیب
راحت و مسرت نے وصول تا ګړه د اقباله
او د خوګ وطن ته که غوګ کیږدے خنکه وائي
اکر شه په دولت د خپل وطن د لایزاله
په در کښې د خالق به د نشتر وی دعا دا تل
آشنا ګړه مونږ د خوګ وطن د ننګ د لوی کماله

طرح ۲

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

او نه نیمه شپه کښې جهانزیب بله کړه شمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

PUKHTO.NET

اُوچت ئے کړه خوک راک پسے شروع شو نو بتونه
مائل شوه دَ هر مُلک دَ هر وطن نه و ته سمع
زاغان که خا پیرکِ وو روان کل شُو نا
ربړا دَ جهان زیب کړه له دے وا رو قلع قمع
خوک وطن حمُوږ به دَ جنت نه یو حساب شی
دَ در دَ لایزال نه دَ نشتر شوه داسے طمع

---

## طرح ۳

هر سړی موندلے لو یه برخه ستا دَ لاسه دَه

---

فضاد کرم ستا چه نن پس حمُوږ لیاسه دَه
هر سړی موندلے لو یه برخه ستا دَ لاسه دَه
سیرت دَ فرشتو نه فیض دَ نمر نه مِ آ قا حُسن
حَسین چهره در کړے لایزال عجب دَ ناسه دَه



سوات دَ ګکو کړ خو دَ قسمت چه دِ اصلاح کړے
سکندر مو بڼه تو لو ته زیبا له یخ جواسه دَه
وطن دَ پښتنو چه په رشتیا سره جنت کړه تا
دَ حال ژبه کویا دَ هر چمن پرے دَ احسا دَه
شادَ پښتنو دَ وطن زیبه! جهان زیبه
ادَم صبا دِ په کو دار دَ چپورا سه دَه
طوطیان له دَ چمن به دِ تل ستائی په نغمو سره
منحوس ژبان دَ زاغ ده چه محروم له دے سپاسه دَه
نه پښتون در ته قائل چه په احسان نه شے
به کامیاب نه شی تابت حمُوږ دَ قیاسه دَه
اے حمُوږ سُلطانه مُبارک بیا مُبارک دِ شه
وینا دَ نشتر داده چه سکندر له قرطاسه دَه

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طرح ۱۲

درووغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

پښتون به خوار شی ځکه چه بادشاه یې دا آمین شی

درووغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

نه یم ریاکار بچان نه خوښ م ریاکار شی

ځای د ریاکار به په آخر کښې تحت ترین شی

کیده لو قدم ځما د سوات په سرزمین کښې ته

ګوره کائینات چه څوک وطن ځما آئین شی

دے د دم قدم د عالیجاه بلند ځمونږ

زیات به له دے حاله استقبال ځمونږ رنګین شی

آباد لرے خاونده حکمران ځمونږ د سوات

په سوال دِ د نشتر له فرشتو نه هم آمین شی

احمد جان نشتر سکنه علیګرامه، سوات



## شاغلی مولوی ضیاء الحق صاحب

## علیګرامه، سوات

## طرح ۱۱

یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

ټول به تل حکمران او سے اے شاه بلند اقباله

هر څوک دِ هم مند کړه له خپل جود او له نواله

ټول ستا دعائی کوی که څوک لوی دے که خورد ساله

یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

جوړے دِ هم ځای ځمونږ د پاره مدرسے کړے

خو له د هم سری دِ د علمونو هم سے کړے

معمور دِ کړه کل واړه د هنر او د کماله

یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



داهغه افغانان دی چه پیښیږي شه شه ت ...
له روړه او له عزیزه شه یې بغض وعداوت ...
بل کار به له دوی نه وه یې له جنګ او له جداله
یو زه یوازې نه یمه په دې باندې خوشحاله

اوس ناست دی په آرام سره کوی عیش وعشرت
پیدا یې یو له بل سره دې اُنس او محبت
تول ستا شکر کنا ردي خلاص د ظلم د جنجاله
یو زه یوازې نه یمه په دې باندې خوشحاله

جاری په هر مقام باندې ستا بحر د کرم د ...
نن ستا په اهتمام سره تول سوات باغ اِرم دی
پاک رب دې معمر په عمر نوح کړه نیک خصاله
یو زه یوازې نه یمه په دې باندې خوشحاله
پوه نه تل حکمران او سې شاه بلند اقباله



... چه په قدرت د رب موجود زمکه آسمان وی
... سوات په سرزمین کښې جهانزیب د حکمران وی
دا سوال ځمونږ قبول کړې په خپل فضل ذوالجلاله
یو زه یوازې نه یمه په دې باندې خوشحاله
پاک رب دې معمر په عمر نوح که نیک خصاله

... ضیاء الحق دې ستا غلام حلقه بګوش
... کړې له خپل لطف وکرم نه فراموش
د دا سې خاکسارانو پرورش کوه دعاله
یو زه یوازې نه یمه په دې باندې خوشحاله
